ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES FOR AFGHAN ARRIVALS
خدمات حقوق مهاجرت برای افغان‌ها

Contact us:
ILSAAinfo@icf.com

## د افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات (ILSAA)

مونږ د هغه نوي راغلي افغان کډوالو سره چې پر شرایطو برابر وي **وړیا مرسته** کوو تر څو هغوی هغه خدماتو ته لاسرسی وموميچې د متحده ایالاتو د مهاجرینو په قانوني سیستم کي خپلې ستونزي ته لاره پیدا کړي.



**افغان کډوال چې د شرایطو واجد دي:**

- د بشري موقتي اقامې غوښتونکی افغانان
- بې سرپرسته افغان ماشومان
- نور هغه افغانان چې د کډوالو د بیا میشتېدو د ۰۱-۲۲ د تګلارې «ORR Policy Letter 22-01» له مخې د شرایطو واجد وي ، لکه د ځانګړي مهاجرت ویزې لرونکي ، ځانګړي کډوال چې د مشروطه دایمي استوګنې حیثیت لري ، پناه غوښتونکي ، او داسې نور.

هغه افغان چې د موقتي اقامې «پرول» غوښتونکی وي ، دا به ورته ډیر ستونزمنه وي چې د کافي قانوني ملاتړ څخه پرته د متحده ایالاتو د مهاجرینو قانوني سیستم سره مخامخ شي. پدې برخه کې مونږ مرسته کولای شو.

**حقوقي خدماتو ته لاسرسی**

- موږ د هغه افغان کډوالو لپاره چې د شرایطو مطابق وي د مهاجرت قانوني مرستې په **وړیا توګه** وړاندې کوو.
- موږ د دایمي اقامې لارښود په هکله ، د کورنیو د بیا یوځای کیدو ، د موقتي محافظت وضعیت (TPS) او داسې نورې ورته مرستې وړاندې کوو.
- موږ لفظي او کتبي ژباړنيز خدمات چې پښتو او دری ژبې هم پکښې شاملې دي تاسو ته وړاندې کوو.
- کله چې موږ د قانوني مرستې لپاره ستاسو درخواست تر لاسه کړی ، موږ به تاسو ستاسو د اړتیاو اړوند د قانوني خدماتو د کاریوه سره معرفي کړو.
- زه مونږ ویب سایټ website وګوري ترسو نورو معلومات او منابعو ته لاس رسيء پیداکړي.

### د افغان کډوالو د ښه چوپړ لپاره د ظرفیتونو (کدرونو) روزل

موږ په ټوله متحده ایالاتو کې د قانوني خدماتو د پاره ظرفیتونه روزو ، سرچینې او دوامداره ملاتړ هم چمتو کوو ، تر څو دوی وکولای شي په ښه توګه افغان کډوالو ته اړین خدمات وړاندې کړي.

تاسو کولای شئ چې د «ILSAAinfo@icf.com» بریښنالیک د لارې خپل نوم ، د تلیفون شمېره ، او خپله لومړنۍ ژبه د «ILSAA» د ټیم غړي ته واستوئ او هغه به ستاسو پیغام ته جواب ووایي. تاسو هم کولای شی زمونږ ویب سایټ څخه لیدنه https://ilsaa.acf.hhs.gov/

.

د دې سند محتویات او مطالب یوازې معلوماتي جنبه لری او کومه حقوقی موخه نلري. د کډوالو او مهاجرت د حقوقی مشورې لپاره د متحده ایالاتو کمېټې ( یو اس سی آر آی- USCRI ) دفتر خپل مالي تمویل د آزادي سیالۍ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 قرارداد په وسیله تر لاسه کړی دی. د نوي راغلو افغانانو لپاره د حقوقی خدماتو پروژه (آی ایل اس ای ای- ILSAA ) سل سلنه (٪۱۰۰) د امریکا متحده ایالاتو د فدرال حکومت لخوا تمویل کیږي.

USCRI